# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



لیکوال او شناند: نظرمحمد مطمئن


۰۵ جولای ۲۰۱۵

## د غني حکومت سقوط نه کوي

د کرزی خبره

کرزی ویلي چي کله د امریکا ولسمشر اوباما د لومړي ځل له پاره افغانستان ته راغی، هغه دري خبري راته وکړي
لومړي: پاکستان زموږ ستراتیژیک ملګري دی، پاکستان په سیمه کي باید بانفوذه هیواد وي، افغانستان د پاکستان په نفوذي ساحه کي راځي.
دویم: د هند سره اړیکي باید تر هغه حده وي چي پاکستان پري راضي وي، او پاکستان پري خفه نه شي.
دریم: د امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کړه، که ته وغواړي او یا ونه غواړي تړون به لاسلیک کیږي، که ته یي لاسلیک نه کړي نو بل څوک به یي لاسلیک کړي، خو که ته یي لاسلیک کړي دابه ستاسي په ګټه وي.
ښکاري چي غني د اوباما امر پرځای کوي

چي روس پلوه مجاهدين که امريکا پلوه کمونستان او سيکولران به يي وګټي

محمد نبي د حاجي خيرالدين اکا ځوی زموږ سره په نهم ټولګي کي يوځای درس وایه، يو ناڅاپه ولاړ شو، هغه ښوونکي ته وويل: معليم صاحب د باندي اجازه ده! سمدستي يي وويل چي معليم صاحب زه والله که نسورا کوم.

د همدي بي ضرورته خبري په اوريدو معليم صاحب پوه شو چي ناپوه محمد نبي د باندي اجازه د نسوار کولو له پاره غواړي.

ولسمشر غني وايي چي ګډ حکومت سقوط نه کوي، له دي مخکي يي ويل چي له طالبانو سره له کمزوری نه بلکه له قوي دريځ نه د سولي خبري کوم، له دي سره سره وايي چي د افغانستان اقتصاد مخ خرابيدو باندي نه دی روان، جالبه داده وايي امنيتي ځواکونه مو تعارضي حالت خپل کړی، او امنيت به ډير ژر سم شي، علومي صاحب خو د غني له فارمول څخه په استفاده د امنيت ښه کيدو او طالبانو ورکيدو له پاره ۶ مياشتي وخت ټاکلی، په داسي حال کي چي د استخباراتو مشر رحمت الله نبيل بيا وايي چي امنيتي وضعيت به په راتلونکو ۶ مياشتو کي په فوق العاده ډول د تشويش وړ وي

که دا هر څه سم وي، نو بيا اړتيا څه ده چي ولسمشر غني وايي چي ګډ حکومت سقوط نه کوي، چا دا پوښتنه ستاسي ښاغلي نه کړي، که کمزوری نه يي نو بيا ولي د قوي دريځ خبري کوئ، که اقتصاد سم وي نو بيا اړتيا څه ده چي د تجارانو مخکي داسي څه واياست چي اقتصاد مخ په ځوړ نه دي.

يو ځغلند نظر د ولسمشر غني په وعدو او تکراري شعار باندی کوو:

### د غني قوي حکومت

ټول وخت غني دا وعده کوله او شعار يې داو چې قوي معياري حکومت چې کار اهل کار ته وسپارل شي، وړ کسان وګمارل شي، رابطې او واسطې ختمې شي، داسې حکومت چې ځوانان پکې ډیر رول ولري.
نيم په نيمه يې حکومت له ډاکټر عبدالله سره وويشی، اوس پکې نه غني او نه عبدالله د پوره واک او پريکړې صلاحيت لري، کوم کسان چې د غني له خوا ټاکل کيږي ډير ځله د عبدالله له خوا ورسره مخالفت کيږي. د غني له خوا نوي نومول شوي ځينې سفيران او ځينې واليان داسې هم شته چې وايې د ټاکنې ٪۵۰ کار مو بشپړشوی او ٪۵۰ پاتې دی، او هغه د عبدالله عبدالله موافقه ده، اوس د غني له خوا نوماند ځينې يې هڅه کوي چې د عبدالله عبدالله تأئيد د هغه د ملګرو او شخصي روابطو د لارې ترلاسه کړي.
عبدالله عبدالله چې کوم کسان نوماند کوي، ډيره ځله د غنی په غلبيل کې بند پاتې شي، تر کومه چې موږ خبر يو، ډيری ټاکنې د روابطو او سياسي اړيکو پر بناء شوې، د بهرنيو هيوادونو سفارتونه ډیر رول پکې لري.
د اسلامي حزب د شوراګانو داخبره هم رسوا شوې چې غني همدوی ټولو ته د ۵ واليانو برخه ورکړې وه، خو د همدې شوراګانو يوه تن د نورو په پټه ۵ واړه واليان معرفي کړي، داخبره هله ښکاره شوه چې کله د اسلامي حزب د شوراګانو مشرانو پريکړه وکړه چې له غني څخه خپله لاره بېله کړي، اوس ويل کيږي غني دوه نور ولايتونه هم ورته منلي دي.
د کار اهل کار سپارلو ته يې تر ټولو ښه مثال په ماليې وزارت کې د نامسلکي وزير ټاکنه، د کار او امور اجمتاعي وزارت ته د ډاکټرې ټاکنه، د ښار او کور جوړولو وزارت ته هغه څوک چې انجنير نه دی او داسې ګڼ نور غير مسلکي وزيران دي.

## د غني امنيت

ولسمشر غني وعده کړی وه چې امنيت کې به ښه والي راځي، د امريکا سره د امنيتي تړون په لاسليک کې يې دومره بيړه وکړه لکه کمونستانو چې د روسانو په راتګ او افغانستان ته د سرو لښکرو په بلنه کې کوله.
ولې ګورو چې ورځ تر بلې امنيتي وضعيت خرابيږي، تر پخوا نا مسؤوله وسلوالې ډلې زياتيږي، جګړه پيچلې کيږي، داعش په نوم وسلواله ډله راپيداشوه، د وزيرستان څخه ټول د منځنی اسيا وسلوال بيرته افغانستان ته راغلل او ډيری يې د هيواد شمالي ولايتونو کې فعاليت کوي، د بدخشان د جرم ولسوالي کې د ملي اردو مورال سخت وځپل شو، د دانګام جګړه کې حکومت تاوان وکړ، په سنګين او موسی کلا کې ورته پېښې وشوې، د کندز ولايت د ښار تر دروازو طالبان ورسېدل، که په دې ټولو جګړو کې د ناټو مرسته نه وای، حکومت به په ډير بد امنيتي وضعيت کې قرار درلود.
ځينې نا تأئيد شوې راپورنه دادی چې تيره اونی په کابل کې ۲۰۰ مرګونه او اختطافونه شوې، که دغه حالت وي نو بيا به کوم سوداګر زړه ښه کړي چې هيواد کې پاتې شي.
د دفاع وزارت ته د غني له خوا د دريو نوماند وزيرانو اعلان ( شيرمحمد کريمي، محمد افضل لودين او معصوم ستانکزي) او د ولسي جرګې له خوا څخه يې رد کول، لومړی ځل چې معصوم ستانکزی ولسي جرګې ته معرفي کيدې پر پارلمان بريد ، نن ورځ چې بيا ولسي جرګې ته معرفي کيدی او تأئيد رايه يې هم ترلاسه نه کړه د قرغې پر پوځي کمپ او مارشال فهيم پوهنتون راکټي بريدونه، هغه څه دي چې غني يې په حکومت کې دننه له امنيتي ګواښ او ستونزو سره مخ کړی.

## د غني اقتصاد

ولسمشر غني وعده کړي وه چي هر افغان ته به پريمانه ډوډۍ ور پيداکوي، په هيواد کي دننه خو د ده د اقتصادي تګلارو اړوند دومره له مبالغي ډک تبليغات وشول، دده پلويانو به ويل چي د چين اقتصادي تګلاره کي د غني مشوره چينايانو ته وه چي د چين اقتصاد سم شو، د روس اقتصادي پلان کي پوتين ته مخامخ غني د روسيي د اقتصادي ودې پلانونه تشريح کول، او ديته ورته له مبالغي ډکي خبرې کيدې، تر کومه چي معلومات دي، اصلاً غني اقتصاد پوه نه دی، او نه يي په اقتصاد کي مسلکي زده کړي ، کله چي دماليي وزير و، ګرده کارونه د استرليا مسلکي کسانو ورته کول، هغه هم چي کله له همدې وزارت څخه ليري شو، ويل کيږي چي غني ګرده ډاټا له ځان سره وساتله او نوي وزير ته يي په واک کي ورنه کړه .

د افغانستان اقتصاد تر ډيره له ګاونډيو هيوادونو څخه متاثره دی، د پاکستان سره چي کوم اقتصادي تړونونه شوي نږدې ټول يي دافغان سوداګرو په زيان دي، او افغان سوداګر يو په بل پسي له هيواد څخه تېښته کوي.

د هيواد يو مشهور سوداګر وايي چي د طالبانو د واکمنی پر مهال مي د کندهار ګمرک رياست کي کار کاو، يوه ورځ د والي له دفتر څخه دوه موټر راغلل، د ګمرک رئيس ته يي وويل چي والي صاحب غوښتی يي، د کندهار والي ډير غوسه ناک سړی و، رئيس زه ورولیږلم، هلته يو سړی ناست و، تکي سپيني جامي، غټه ژيره ، سور او سپين مخ يي و، والي وويل چي د روسي ټايرونو (يو خاص نمبر يي و زما څخه هير دی) محصول تاسي څومره اخلئ، والي ته مي وويل چي موږ پر ټن ۵۰ ډالره محصول اخلو، والي وويل چي دغه تجار دی، دی وايي چي زه ۸۰ ډالره محصول پر ټن ورکوم، د حکومت ګټه به شي، او تاسي پر دغو ټايرونو محصول لوړ کړئ، له دي وروسته به محصول ۸۰ ډالره اخلئ.

د هغه وخت د ګمرک کارکونکی اوسنی مشهور سوداګر وايي چي والي ته مي وويل چي سمه ده دغه تجار به يو يا دوه ځله دغه ټايرونه راوړي او موږ ته به پر يو ټن ۸۰ ډالر محصول راکړي، خو ډير نور سوداګر دي چي هغوی به بيا موږ ته ۸۰ ډالر نه راکوي، او همدغه ټايرونه به بيا له پاکستان څخه په قاچاقي ډول بيرته افغانستان ته راوړی، ځکه د پاکستان محصول به کم وي، هغوی به ۸۰ ډالر نه اخلي، نو ګټه به يي ټوله د پاکستان سوداګرو ته ځي، او افغانستان ته به د ټايرونه واردول کم شي، افغان سوداګر به زيان وکړي، پاکستان به ګټه وکړی، کله چي والي پر دغه خبره پوه شو، نو سمدستي يي خپل وسلوال طالبان راوغوښتل او ورته ويې ويل چي دا بدبخته سړی ژر راڅخه وباسئ، هغه پاکستاني پښتون کويټه ميشتي سوداګر ته يي وويل چي تر ماشام ها خوا که مي په افغانستان کي وليدي بيا دي د ځان خير مه غواړه. او ګمرک رياست ته يي امر وکړ چي د ټايرونو پر يو ټن محصول ۴۰ ډالره کړئ.

همدا اوس تر ډيره پاکستاني نوکران په قاچاقي ډول افغانستان ته راځي، درمل په قاچاقي ډول افغانستان ته راځي، ځکه محصول د افغانستان حکومت لوړ کړی، خلک مجبوره دي چي قاچاق وکړي، ګټه يي د ټرانسپورټ، د لاري او کارکونکو پاکستان ته ځي.

سګريټ ښه عمل نه دي، خو دا هم بايد ومنو چي اسانه نه ده چي خلک دي سګريټ په اساني پريږدي، ددي پرځای چي سنجيده لاري چاري وسنجول شي، محصول پري زياتيږي، په پاکستان کې د سګريټو محصول په فوق العاده توګه د حکومت له خوا کميږي او په افغانستان کي لوړيږی، اوس به افغانان مجبوره وي چي په قاچاقي ډول يي له پاکستان څخه راوړي ( زه ليکوال سګريټ او کوم بل عمل نه کوم)

ښکاري چي د يو پلان له مخي اقتصادي تګلاره د افغانستان پر زيان د پاکستان پر ګټه مخته وړل کيږي، ما په ډير لومړي سر کي يوه ليکنه کي ويلي و چي په افغانستان کي په ماليه وزارت او بانکونو کي ډيری پاکستاني مشاورين او د پاکستان ګټو ته ژمن کسان کار کوي، اسانه به نه وي چي غني اقتصادي سيستم سم جوړ کړلای شي.

په لوی لاس افغان سوداګر تنګول کیږي او له هیواده بهر وتلو او یا پاکستان ته تللو ته مجبوره کیږي، یو افغان سوداګر چې د اوسپنې کار یې کاو، د هرات اداري له خوا ۶۰ لکه ډالر محصول د پخوا وخت ورپسې اوس جوړ شوی، څوی یې ونیول شو د ۲۵۰۰۰ ډالرو رشوت په مقابل کې یې خلاص کړ، هغه سوداګر به بیا څه ډول زړه ښه کړي چې افغانستان کې سوداګري وکړي، ویل کیږي خپله ټوله پانګه او پیسې یې پاکستان ته یوړه.

کله چې چین ته غني سفر وکړ، د چین چارواکو تمه وه چې له افغانستان سره به ډیر زیات اقتصادي تړونونه لاسلیک کړي، ولې غنی چې بیرته هیواد ته راغی، او په ځانګړې ډول چې کله د امریکې له سفر څخه راستون شو، د چین خوبونه یې په اوبو لاهو کړل.

د وریښمو د پروژې خبرې چې غني کولې او ویل یې له چین سره به دغه لاره جوړه کړم، اوسنې معلومات ښئي چې چین هوډ لري د وریښمو لار پر قزاقستان وباسي، افغانستان به له دغې مهمې اقتصادي لارې څخه هم بې برخې شي.

ولې یو نوی پرمختګ چې لیدل کیږي هغه دادی چې د ډنمارک او سویډن څخه سوداګر افغانستان راغلي او غوښتنه یې کړې چې په کندهار کې د انګورو د ښېرې (اوبو) له پاره د شرابو فابریکه جوړه کړي. هغوی دلیل هم دا وړاندې کوي چې په پاکستان کې د شرابو فابریکه شته نو په کندهار کې که جوړه شي هم باید خلک یې مخالفت ونه کړي، ځکه دواړه اسلامي هیوادونه دي.

### د غني سوله

ولسمشر غني به ویل چې قوي حکومت جوړوم، امنیت راولم، د افغانانو اقتصاد قوي کوم، کله چې په حکومتي دندو اهل کار خلک وګمارم، امنیت سم شي، افغانان په خپله ماره شي، اقتصاد وده وکړي، سوله خپله راځي.

د کمپاین پر وخت یې د سولې شعار په خوله و، کله چې واک ته ورسیدی، د ده له خوا د ۶ میاشتې فارمول پر بناء یې وعده وکړه چې په ۶ میاشتې کې سوله راولم، له پاکستان سره یې تګ راتګ دې حد ته ورسید چې د ببرک له روسانو او کرزي له بوش سره د نږدیوالې په پرتله ډیر ښکاریدی.

د سولې په مخ کې لوی خنډ داهم دی چې خپله په ارګ کې اختلاف نظر موجود دی، ولسمشر غني د سولې اړوند واضیح تګلاره نه لري، مګر د عبدالله عبدالله شرایط بیا له ولسمشر غني څخه بېل دي. بل خوا د ولسمشر لومړي مرسیتال عبدالرشید دوستم او د ګډ حکومت د بلخ والي عطاء نور د جنګ او سولې په مقابل کې د ملیشو او جګړو خبرې کوي، کله چې ژمنتیا نه وی، په حکومت کې دننه د سولې پر سر اختلاف وي ، او د سولې په مخ کې خپله چارواکې خنډونه پیداکوي بیا ولې د سولې د راتلو امید ولرو، او په پروان کې د وروستی پیښې چې د قومندان جان احمد په کور کې وسلې امریکایي الوتکو بمبارد کړې، هغه څه دي چې ښکاري د ګډ حکومت نیتونه یو بل ته خراب دي، د ګډ حکومت دواړه مشران وخت ته انتظار کوي چې کوم یو به وار له مخه کړي که وکولای شي ټول واک د ځان کړي، داچې بهرني پوځیان شته، شونې نه ښکاري چې عبدالله عبدالله به پر غني کودتا وکړي، او یا به د کرزي په لارښونه پخواني لیري کړل شوې د کابینې غړي او جنګسالاران غني اړ کړي چې دوی ته د موقت حکومت تر نامه لاندې واک پرېږدي. خو د وخت په تیریدو او حالاتو په خرابیدو د داسې هر ډول ګواښ او خطر اندېښنه کیدای شي.

د طالبانو د وخت ډیپلوماټ او د ګوانتانامو څخه راخلاص شوی بندی ملاعبدالسلام ضعیف وایي چې کله غني واک ته ورسید، د لیدو غوښتنه یې وکړه، د طالبانو سره د سولې اړوند مې ورته وویل چې امنیتي تړون خو دې لاسلیک کړ، د سولې په مخ کې خنډ دی، غنی وویل چې تړون لغوه کیدای شي، بیا مې غني ته وویل چې د طالبانو مشر ملامحمد عمر مجاهد طالب مشرانو ته څرګنده کړې که د بهرنیو پوځیانو تر وتلو وروسته په خبرو وینه دریږي او سوله راشي.

ضعیف صاحب وایي چې غني ته مې وویل د سولې په راوستو کې پر پاکستان باور به هغه څه وي چې کرزي کړی و، ورته مې وویل چې  د سولې له پاره داسې ملي محور په کار دي چې ولس يې وټاکي، علماء، پوهان او مخور مشران وي، حکومت مداخله ونه کړي، د همدې له پاره نړیوال ضمانت په کار دي، دا دول چین، ترکیه، سعودي، پاکستان، هند، ایران او قطر په اعتماد کې اخستل هم په کار دي.

ضعیف صاحب وایي چې غني ته مې وویل چې د سولې اړوند تلوار مه کوه، په پوره سوچ او وروسته له هغه چې د سولې له پاره د رسیدو ربښتوني حالت درته معلوم شو، بیا خپل دریځ له ولس، شکېلو اړخونو او نړیوالو سره شریک کړه.

ولسمشر غنی ویل  افغانان له غلامي څخه خلاصوم، خو زه لس کلونه د امریکا غلامي کوم، بیا به د سلګونو نورو کلونو له پاره خپلواک یو، مګر موږ ولیدل چې له امریکا  سره د امنیتي تړون په لاسلیک کې یې د ګردو افغانانو غاړو ته د غلامی کړیَ ور واچولې او ددې تړون ګټه هیڅ افغان ونه لیدله.

## د غني اړیکې له ګاونډیو هیوادونو  سره

د هر هیواد مشر او ولس غواړي چې د ګاونډیو هیوادونو له حکومتونو او ولسونو سره ښې اړیکې د متقابل احترام پر بناء ولري، نه داچې نورو ته اجازه ورکول شي چې د بل هیواد په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي.

د پاکستان سره د غني یو اړخیزه معامله او سیاسي اړیکې بیا هم ځینې خوش باوره خلک هیله مند کړی و.

راځي د کرزي داخبره راواخلو چې په دې وروستیو وختونو کې یې خپل د مجلس نږدې ملګرو ته کړې ده

کرزی ویلې چې کله د امریکا ولسمشر اوباما د لومړي ځل له پاره افغانستان ته راغی، هغه درې خبرې راته وکړې لومړي: پاکستان زموږ ستراتیژیک ملګري دی، پاکستان په سیمه کې باید بانفوذه هیواد وي، افغانستان د پاکستان په نفوذي ساحه کې راځي.

دوهم: د هند سره اړیکې باید تر هغه حده وي چې پاکستان پرې راضي وي، او پاکستان پرې خفه نه شي.

دریم: د امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کړه، که ته وغواړې او یا ونه غواړې تړون به لاسلیک کیږي، که ته یې لاسلیک نه کړې نو بل څوک به یې لاسلیک کړي، خو که ته یې لاسلیک کړې دابه ستاسې په ګټه وي.

که د غني اوسنی تګلارې ته په غور سره وکتل شي، کټ مټ د اوباما خبرې عملي کوي، پاکستان ته حق ورکوي چې افغانستان یې په سیاسي نفوذي ساحه کې ژوند وکړي، له هند سره اړیکې د پاکستان په خوښه او اجازه او د امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک شو.

له پاکستان سره امنیتي تړون لاسلیک کول او بیا د غني په شا کېدل، حتمي ده چې تر لږ حده به د افغانستان او پاکستان په اړیکو تأثیر ولري، ولې که غني د اوباما امر پر ځای کوي، نو بیا به د پاکستان سره د غني د اړیکو تګلاره له واشنګټن څخه ټاکل کیږي.

له ایران سره د افغانستان اړیکې له دې امله خرابیدو ته ځي چې په افغانستان کې د افغان داعش ډله راپیداکول د ایران له پاره هم ګواښ دی، او ایران پوهیږي چې د  افغان داعش ډلې پیداکیدو کې د چا لاس دی.

د منځنی آسیا هیوادونو سره اړیکې د امریکا او روس د تګلارو پر بنیاد ټاکل کیږی، د منځنی آسیا د هیوادونو (تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان) اړیکې له افغانستان سره د روس څخه متاثره او د افغانستان تګلاره له یادو هیوادونو سره د امریکا په خوښه ټاکل کیږي، داچې اوس د امریکا او روس شخړه د اوکراین او سوریې په مسئله کې خرابې شوې، نو له منځنی آسیا سره هم د افغانستان اړیکې خرابیدو لورته رواني دي.

## غني له چين ، هند او روس څخه ځه ترلاسه کړل

چين غوښتل چې له نوی افغان حکومت سره پر اقتصادي چارو بحث وکړي، او که ممکن وي ځيني اقتصادي پروژې په افغانستان کې ولري، ولې کله چې غني د امريکا له سفر څخه راوګرځيد، د چين هيلې له خاورو سره خاوري شوې، ځکه خو اوس د قزاکستان په اړه فکر کوي، او د پاکستان سره يې لوی اقتصادي تړونونه وکړل.

هند چې د کرزي په وخت کې يې د افغانستان سره ډيری مرستې وکړي، او تر ډيره يې له افغان حکومت سره اړيکې ښې کړي، غني په ډيره بيړه دغه اړيکې خرابې کړي، هند خپلې لويې تر کار لاندی پروژې په افغانستان کې ودرولې او د ملي امنيت او آی ايس آی تړون اړوند يې سخت غبرګون وښود.

روس د افغانستان حالت له نږدې ځاري او مداخله يې له ورايه ښکاري، په پروان کې د جان احمد په کور کې د زرګونو ميلو روسي ډول ډول وسلو پيداکيدل يې تر ټولو ښه بېلګه ده.

په وروستيو وختونو کې د پخواي ولسمشر کرزي سفر لومړی چين او بيا روسيې ته ، دا ډول چين ته پر لاره د هندې چاروکو سره د کرزي ليدنه، د امريکا او غني له پاره ښه خبر نه و، کرزی هڅه کوي که د چين او روسيې ملاتړ ترلاسه کړي، ځکه د اوباما له اداري سره يې اړيکې خرابې دي، خو که بيا ځل په امريکا کې جمهوري خواهان د ۲۰۱۶ انتخابات وګټي وبه ګورو چې هغه وخت به کرزی بيا له امريکا سره د د بوش د وخت په څير نږدې شي او که به د شمال ټلوالي په وساطت له هند، ايران او روسيې سره پاتې شي.

عطاء نور او دوستم هم په وروستيو وختونو کې يوه يې روسيې او بل يې ازبکستان ته سفر درلود، ښکاري چې د روسيې، ازبکستان او ترکيې په ګډو هڅو دغه د شمال دوه ځواکمن قومندانان سره يوځای او په مزار شريف کې يې د طالب او داعش په مقابل کې د جګړې اعلان بياځل تازه کی.

عطاء نور څرګنده کړي چې د حکومت د فشار له امله نه بلکه پخپله خوښه به واک پريږدي، ولسمشر غني له اسماعيل خان څخه غوښتنه کړي وه چې د بلخ ولايت ومني، هغه ورسره نه ده منلې.

د ګډ حکومت مشر غني ټول ټال ۱۱۰ ژمنې کړي وي، چې تر اوسه يې ۴ عملي شوې يوه يې امنيتي تړون دی، معلوماتو ته د خلکو د لاسرسي قانون پلي کول، افغانستان ته د نيويارک ټايمز د خبريال پر راتګ بنديز ختمول او د ولسمشر دفتر رياست يوځای کول د چارو اداري او وزيرانو شورا له تشکيلاتو سره.

۲۳ کړي ژمنې دوی وايي تر کار لاندې دي او ۸۳ کړي ژمنې لا تراوسه پيل شوې نه دي.

پورته ټکو ته په کتو سره ښکاري چې ولسمشر اشرف غني حس کړی چې ګډ حکومت د سقوط په حالت کې دی. عبدالله عبدالله هم د ګډ حکومت کمزوري تأئيد کړي.